# دافغانستان لپاره د ملگرو ملتونو دوامداره پرمختيايي موخو په لاسته راوړلو کي د اوبو د بندونو اهميت

محمد نعمان الکو

## 1. پېژندنه

د ملگري ملتونو ټول غړي هېوادونه په 2015 ميلادي کال کي د راتلونکي پنځلس کلونو (2015-2030) لپاره پر يوې واحدې اجنداء او دمشـــخصـــو اهدافو لاســـته راوړلو لپاره موافقې ته سره ورســـېدل.د 2030 کال اجنداء د اوولســـو (۱۷) دوامداره پر مختيايي اهدافو (Sustainable Development Goals-SDGs)څخه متشـکله ده ، چي بيا هر هدف ځانته ځانگړي موخي او شـاخصـونه لري.په بل عبارت ، هر موخه ځانته فرعي موخې لري چي د هر موخي د پرمختگ د معلومولو لپاره بيا مشخص شاخصونه تعين سوي دي. دلته پايداري او يا دوامداري پدې معني ده چي د ځمکي پرمخ د منابعو څخه بايد داسي گټه پورته سي چي راتلونکی نسل بيا ددې منا بعو په پيدا کولو کي د سـتونزو سره مخ نه سي. کله چي ټول فرعي موخي د شـاخصـونو مطابق ترلاسـه سي نو بيا د ملگرو ملتونو يوه موخه ټاکلي هدف ته رسـېدلي حسـابيږي. جدول (۱) اوولس(۱۷) د ملگرو ملتونو دوامداره پرمختيايي موخي سره د فرعي او شـاخصـونو د شميرو سره ښيي.

ددې موخو اصـــلي اهميت پدې کي دی ، چي ۱۹۳ هيوادونه د آينده اقليمي تغيراتو د خطر ، فقر ، نامســـاوات ، چاپيريالي ککړتيا اوطبيعي آفتونو په وړاندي گډه مبارزې ته اړباسي او همدارنگه د ټولي نړی د متوازن انکشـــاف ســـبب گرځي. د ملگري ملتونو[۱] د معلوماتو له مخي ، تر او سه لا هم نړی کښي ۷۰۰ ميليونه وگړي دفقر تر کچي لاندي ژوند کوي ، ۶۱۷ ميليونه کوچنيان د لومړنی زده کړوڅخه بې برخي دي ، د دنيا ۴۰ فيصـده وگړي د پاکو اوبو د کمښـت څخه متاثره دي او داسي نوري سـتونزي چي ډېری يې مخ پر وده هيوادونه اور سره لاس او گريوان دي. ددې لپاره چي هيڅ کوم هيواد د پرمختگ څخه ښـــاته پاته نسي_او د دنيا ټول ملتونه په مساوي ډول پرمختگ وکړي ، ددې اهدافو تر لاسه کول د ملگري ملتونو د سازمان لپاره ډېر اهميت لري .

د افغانستان اسلامی جمهوريت د ملگروملتونو د غړی په توگه د دوامداره پرمختيايي موخو په تطبيق کولو کښي متعهد وو .د وزيرانو د عالي شـورا د۱۳۹۴/۷/۲۰ نېټې، ۱۶ مصـوبې ، ۴ فقرې په اسـتناد[۲] ،اقتصـاد وزارت د دې اهدافو د موثر تطبيق، هماهنگی ،نظارت او څارنه باندي مؤظف ســويدی ،چي خپل کلنی راپوربه ترتيبوي او د وزيرانو عالي شــورا ته تر وړاندي کولو وروســته به د ديپلوماتيکو مراجعو له لاري د ملگري ملتونو له سازمان سره شريکوي.د افغانستان پخواني دولت په پلان کي درلودل چي دغه اهدافو ته د رسېدلو لپاره خپله پاليسي په درو مرحلو سره تطبيق کړي.

لومړی مرحله : دوامداره پرمختيايي موخي ملي کول او د افغانستان –دوامداره پرمختيايي موخي (A-SDGs) ترتيب او نهايي کول.

دوهمه مرحله : د ملي پلانونو او برنامو سره د افغانستان –دوامداره پرمختيايي موخو انطباق (2017)

دريمه مرحله : تطبيق ، څارنه او راپور ورکونه (2018-2030)

د افغانستان اسلامي دولت په لومړي مرحله کي ، ددې لپاره چي د دغو دوامداره پرمختيايي موخو پلان جوړونه او تطبيق اسانه سي ، د اوولسو (۱۷) اهدافو فرعي موخي او شاخصونه يې په اتو(۸) ټولنيزو او اقتصادي سکتورو وويشل، چي وروسته بيا هر سکتور ته خپل اړونده ملی موخي او شـــاخصـــونه تعين ســـوي دي [۳]. دغه اته ټولنيز او اقتصـــادي ســـکتورنه عبارت دي له امنيت ،ښـــوونه ، روغتيا ،حکومتولی ، زېربنا ،ټولنيز خونديتوب ، زراعت او کليوالي پراختيا او اقتصاد.

جدول ۱: د ملګروملتونو دوامداره پرمختیایي موخې

| شمېره | موخې | انګلیسي نوم | فرعي موخې | شاخصونه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د بې وزلۍ پای | No Poverty | 7 | 13 |
| ۲ | د لوږې پای | Zero Hunger | 8 | 13 |
| ۳ | روغتیا او هوساینه | Good Health and Well-being | 13 | 27 |
| ۴ | باکیفیته ښوونه | Quality Education | 10 | 11 |
| ۵ | د جنسیت مساوات | Gender Equality | 9 | 14 |
| ٦ | پاکې اوبه اوصفايي | Clean Water and Sanitation | 8 | 11 |
| ۷ | ارزانه او پاکه انرژي | Affordable and Clean Energy | 5 | 6 |
| ۸ | مناسب کار او اقتصادي وده | Decent Work and Economic Growth | 12 | 17 |
| ۹ | صنعت، نوښت او زېربنا | Industry, Innovation and Infrastructure | 8 | 12 |
| ۱۰ | د نا انډولۍ راکمونه | Reduced Inequality | 10 | 11 |
| ۱۱ | پایداره ښارونه او ټولنې | Sustainable Cities and Communities | 10 | 15 |
| ۱۲ | مسوولانه تولید او مصرف | Responsible Consumption and Production | 11 | 13 |
| ۱۳ | د اقلیم په اړه کړنې | Climate Action | 5 | 8 |
| ۱۴ | د اوبو لاندې ژوند | Life Below Water | 10 | 10 |
| ۱۵ | پر ځمکه باندې ژوند | Life on Land | 12 | 13 |
| ۱٦ | سوله ، عدالت او پیاوړې بنسټونه | Peace and Justice Strong Institution | 12 | 23 |
| ۱۷ | د موخو د تطبیق لپاره مشارکت | Partnerships to achieve the Goal | 19 | 25 |
| مجموعي فرعي موخې او شاخصونه | | | **169** | **242** |

افغانســـتان د ملګرو ملتونو د غړي په توګه اوس مکلف دی چې دغه پایداره موخې به تر 2030 میلادي کاله پورې لاس ته راوړي. په پورته پارګرافونو کې ددغو اهدافو پېژندلګلوي او د افغانستان دریځ او پلان ته په لنډه توګه کتنه ترسره سوه .داچې اوس افغانستان ددې اهدافو په تطبیق کې په کومه مرحله کې دی او څومره فرعي شـاخصـونه یې پوره کړي دي، ددې لیکنې له اصـلي موخې څخه نه دي .بلکه په دې علمي مقاله کې یواځې د اوبو مهارولو لپاره د بندونو جوړولو اهمیت د ملګرو ملتونو د تعین سوي اهدافو په لا سته راوړنه کې څېړل سوی دی. لومړی به د افغانستان د اوبو بندونو وضعیت ته لنډه کتنه وسي. وروسته به د کمال خان بند ټولنیز او اقتصادی ګټو ته په کتوسره، دا وڅېړل سي ، چې د ملګروملتونو په کومو موخو او شاخصو په لاسته راوړلو کې د اوبو د بندو جوړول مسقیم او یا غیر مستقیم اغیزلري.

### ۲. د افغانستان د اوبو بندونه :

افغانستان دډېرو لوړو هسکو غرونو درلودونکی دی، چې د مختلو رودونو شبکې له دې غرونو څخه سرچینه اخلي . افغانستان د پنځو سیندیزي حوزو درلودونکی دی، چې نومونه او نور مشخصات یې په جدول ۲ کې ښودل سوي دي[۴].

جدول ۲: د افغانستان سیندیزي حوزې او رودونه

| شمېره | سیندیزه حوزه | مساحت ٪ (د ټولي سیندیزو حوزو له مخي) | اوبو مقدار٪ (د ټولي سیندیزو حوزو له مخي) | رودونه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | آمو سیندیزه حوزه | 14 | 57 | آمو ، پنج ،واخان،کندز،کوکچه |
| ۲ | هریرود-مرغاب سیندیزه حوزه | 12 | 4 | هریرورد، مرغاب، کوشک |
| ۳ | هلمند سیندیزه حوزه | 41 | 11 | هلمند، ارغنداب، ترنک ،غزني،فراه ، خاش |
| ۴ | کابل سیندیزه حوزه | 11 | 26 | کابل،کنړ، پنجشیر ، غوربند، الینگار، لوګر |
| ۵ | شمال سیندیزه حوزه | 11 | 2 | بلخ، سرپل، خلم |
| ٦ | وچه سیمه | 10 | -- | -- |

د پورته ذکرسـویورودونو باندي تقریبا ٦۲ د اوبو بندونه جوړ سـوي دي ، چي ۲۰ داني يې لوی بندونه دي. د مثال په ډول دکجکي ، دهلې ، سلما او سلطان بندونو نومان یادولای سو. همدارنګه د افغانستان دولت په پام کي لري چي نور ۱۰۴کوچني او لوی بندونه د اوبو مهارولو او مدیریت لپاره جوړ کړي ، چي مهم يې د المار ، باغ درې ، بخش آباد او کمال خان بندونه دي [۵].

## ۳. د اوبو بندونه اود افغانستان دوامداره پرمختیايي موخې

ددې لپاره چي دا جوته سي چي د اوبو د بندونو جوړول په کومو پرمختیايي اهدافو په لاسته راوړلو کښي مهم اهمیت لري ، د ملګرو ملتونو ټول ۱٦۹ فرعي او ۲۳۲ شاخصونه مطالعه او تحلیل سوي دي. په نتیجه کښي ، هغه موخي په ګوته سوي دي کوم چي پر هغوی باندی د اوبو د بندونو جوړونه مسـتقیم یا غیر مسـتقیم اغیز لري. د ملګرو ملتونو موخې داسـی ټاکل سـوي دي چي د یوې موخې په لاسته راولو سره پر نورو موخو هم غیرمستقیم تاثیر اچوي. د مثال په ډول ،کله چي د اوبو یو بند جوړ سي نواوبه به مهار سي او داوبو څخه به د بریښنـا او زراعت کي کار واخیسـتل سي.کله چي دا موخه پوره سـوه نو دا موخه د بې وزلۍ او لوږي په راکمیدو کښـي هم مرسـته کوي .وروسـته د یو مثال په ډول کمال خان بند اقتصـادي او ټولنیزي ګټو ته‌راو او اهمیت د دوامداره پرمختیايي موخو په لاسـته راوړلو کښي بیان سوي دي.

### ۳،۱ د ښېړمي موخي (Goal 6) په لاسته راوړلو کي د بندونو اهمیت:

د ملګرو ملتونو ښپږمه موخه خاص د اوبواو صفايي ( د فاضلاتو پاک سیستم او په پاکو اوبو د صابون سره لاسونه مینځل) برخې ته ځانګړې سوې ده، چي اته فرعي موخي لري. ددې فرعي موخو د پرمختګ د اندازه کولو لپاره بیا یوولس شاخصونه تعین سوي دي.د بندونوجوړول ددغه اتو فرعي موخوڅخه پر ځلورو يې مسقیم اثر لري، چي په لاندي جدول ۳کي ذکر او تشریح سوي دي.نوري پاته فرعي موخي د د فاضلاتو او صفايي ته د لاسرسی او اوبو کیفیت اړوند دي.

جدول ۳: دوامداره پرمختیایي ښېړمه موخه او ددې موخي په لاسته راوړلو کي د بندونو اهمیت

| دښېړم هدف (Goal 6) فرعي موخي | دبندونو د جوړولو اغیز |
| --- | --- |
| **٦,١ : پاکو او ارزانه د څښلواوبو ته په نړیواله سطحه د هر چا لاسرسی تر 2030 میلادي کال پوري.** | په افغانستان کښي د بندونو څخه یواځي د اوبولګولو او بریښنا په تولید کي کار اخیستل کیږي. که چیري د دغه موجوده بندونو او یا نوی پلان سویو بندونو څخه د پاکو اوبو برابرولو لپاره شبکې جوړې سي ،نو دا به ددغې موخې په لاسته راوړلو کي په بې ساري توګه مرسته وکړي. ځکه د افغانستان نږدي ټول ښارونه د اوبو رسولو زېربناوي نه لري او ټولي اوبه د ځمکي له څاهانو څخه راکښل کیږي چي د ځمکي لاندي د اوبو سطحه یې په بې ساري کچه لاندي بېولې ده.ددهلې بند د دوهم فاز په جوړولو کښي دا نوښت ترسره سوی دی، چي د ښار لپاره د اوبو رسولو شبکې امکانات هم سنجول سوي دي ، چي اوس یې سروې روانه ده په لومړی ځل به د اوبو د تصفیه کولو لپاره مناسب ځای جوړسي او بیا به اوبه وویشل سي. |
| **٦,۴ :تر 2030 کال پوري ، په ټولو سکتوروکښي د اوبوداستعمال مؤثریت په اساسی ډول زیاتول اود خوړو (څښلو) اوبو په راکښلو او عرضه کولو کي پایداري (دوامداري) څخه ډاد ترلاسه کول تر څو چي د اوبو د کمښت ستونزه حل او د هغو وګړو شمیر کي د پام وړلړوالی راوستل سي کوم چي پاکو اوبو ته لاسری نه لري.** | افغانستان ډېري رواني اوبه لري، خو تر اوسه یې په پوره توګه ندي مهار کړي. د افغانستان ډېري سیمي د اوبو له کمښت سره مخامخ دي . د اوبو د موثر استعمال لپاره د بندونو جوړول اساسي شرط دی. ددې لپاره چي افغانستان د ملګرو ملتونو دغه هدف ته ځان ورسوي نود نوي بندونو جوړول او د زاړه بندونو رغول یې اساسي حل لاره ده.دلته پایداري او یا دوامداري پدې معني ده چي د ځمکي پرمخ د منابعو څخه باید داسي ګټه پورته سي چي آینده نسل بیا ددې منا بعو په پیدا کولو کي د ستونزو سره مخامخ نه سي.د مثال په ډول که چیري موږ د څاهانو د اوبو څخه ډېره ګټه واخلو نو ددې اوبو سطحه به ډېره کښته سي او بیا به بیخي لاسرسی نه ورته کیږي او یا به هم خلاصي سي. |
| **٦,٥ : تر 2030 کاله پوري ، په ټولو مرحلو کي د اوبو د منابعو هر اړخیز مدیریت ( Integrated Water Resource Management) تطبیقول چي د پوله تېریدونکي سیندیزي حوزې هم پکښي شاملیږي.** | د افغانستان د اوبو دستراتیژی [٦]له مخی د اوبو مدیریت باید و د اوبو د سرچینو هر اړخیز مدیریت (IWRM) ته واوړي . ددې نوي بنې مدیریت هدف دادی چي کله د اوبود منابعود مدیریت لپاره پلان جوړیږي ، باید ټول هغه سکتورونه چي د اوبو سره تړاو لري (د پاکو اوبو رسولو شبکه، زراعت ، صنعت ، معادن او داسي نور ) په یو وا حد ، ارتباط لرونکي او هر اړخیز ډول په نظر کي سره ونیول سي. د بندونو جوړول داوبودسرچینودهراړخیزمدیریت په تطبیق کولو کي اساسي رول لري . |
| **٦,٦ : تر 2020 کاله پوري و د اوبو اړونده ایکو سیستمونو (Ecosystems) ساتنه کول او رغول لکه غرونه ، ځنګلونه ، رودونه ، د ځمکي لاندي د اوبوزېرمي (Aquifers) او جهیلونه** | ایکو سیستم هغه سیستم ته ویل کیږي چي د چاپیریال سر ه سازګار وي یعني په ګته یې وي او تاوان نه اورته لري. د بندونو جوړول د ځمکي لاندي د اوبود زېرمو د زیاتوالي ، او د رودونو په ساتنه کي رغنده رول لري. کوم ځای کي چي بندونه جوړ سوي دي ، هلته ډول ډول وني شنې کېدای س او خپله د بند په وا سطه مهار سوي اوبه د یو جهیل په توګه کار کوي ،چي د ماهیانو او نورو داسي ژویو لپاره د ژوند کولو زمینه برابروي. |

## ۳,۲: د بندونو جوړول غير مستقيم اغيز پر نورو پرمختيايي موخو باندي

لکه څرنګه چي د مخه هم وويل سول چي دوامداره پرمختيايي موخي داسي تړاکل سوي دي چي هر اړخيز تاثير يوه پر بلې موخې باندي لري. په لاندي جدول ۴ کښې د ملګرو ملتونو هغه هدفونه ذکر سوي دي کوم چي د داوبو د بندونو جوړښت اغيز پر لري.

جدول ۴: پرمختيايي موخي او پر هغوی باندي د بندونود جوړولواغيز

| شمېره | موخي | انګليسي نوم | د بندونواهميت |
|---|---|---|---|
| ۱ | د بې وزلـې پای | No Poverty | د ملګرو ملتونو لومړی موخه داده چي ټول وګړي بايد لومړني ا ساسي خدماتو ته لاسرسی ولري. اوبه يو له اساسي خدماتو څخه دي چي ټول بې وزله خلګ په افغانستان کي اورسره لاس او ګريوان دي.کوچني بندونه په کليو کي جوړول او يا هم د لويو بندونو څخه د اوبو کالونو او يا شـبکوپه جوړولوسره به دغه د بې وزلی اساسی مشکل حل سي او د ملګرو ملتونو دغه هدف به تړاکلي موخې ته نږدې سي. |
| ۲ | د لوږي پای | Zero Hunger | ملګروملتونو بل ا سا سی هدف دادی چي په نړی ک ښبي ډېر خلګ و خوړو ته لاسرســـی نه لري او ډيری کوچنيان او مېندي د لوږي څخه کړيږي. د بندونه جوړول د زراعت په وده کښـــې د پام وړ رول لوبوي .يعني ډيري مځکي خړوبيږي او خلګ خپل لومړني د خوړو توکولاسرسی پيدا کوي. |
| ۳ | روغــتـيــا او هوساينه | Good Health and Well-being | د اوبو د مهارولو او روغتيا تر منځ اړيکي لپاره د ډاکټر ناکامورا مثال وړاندي کولای سـو. ډاکټر ناکامورا اصـلا د يوې موسـسې ډاکتر وو چي د افغانسـتان مهاجرينو لپاره يې په پيښاور ښار کي خدمت کاوه.وروسته بيا يې درې کلينيکه په جلال اباد کي خلاص کړل تر څو د خلګو لپاره صـحي خدمات وړاندي کړي.داکتر ناکامورا دا درک کړل چي ډېري مريضی د سو تغذي په وجه دي، نو يې د کوچنيو بندونو او کا نالو جوړولو ته ملاوتړله . دده ددې کار څخه هدف دا وو چي زراعت ته وده ورکړي او خلګو ته مناسب خواړه پيدا سي .نو د بندونو جوړول په روغتيا او هوسايني باندي هم د پام وړ اغيز لري. |
| ۴ | ارزانه او پاکه انرژي | Affordable and Clean Energy | ټول افغانســتان د بې برقی له ســتونزي سره لاس او ګريوان دي . په افغانســتان کښبي د هايدرو پاور بندونه جوړول د ملګرو ملتونو ددې موخي په لاسته راوړنه کي اساسي او مهم رول لري. |
| ۵ | مناسب کار او اقتصادي وده | Decent Work & Economic Growth | دا ډېره واضــح خبره ده چي د بندونو د جوړولو په نتيجه کي هم زراعت وده کوي او برقي انرژي توليديږي چي مناسب کار او اقتصادي ودې سبب ګرځي. |
| ٦ | صــــنــعــت ، نوښـــت او زېربنا | Industry, Innovation and Infrastructure | د افغانســتان نږدې ټول ښــارونه د اوبو رســولو منظمې زېربناوي نه لري او همدارنګه د فابريکو لپاره هم د اوبو برابرول يو لوی مشــکل دی. نود بندونو څخه د اوبو مهارولو او انرژي تر څنګ د ښــارونو لپاره د اوبو برابرولو کار هم اخيســتل کيدای سي. دا به د ددې موخې په لاســته راوړنه کي لوی پرمختګ وي. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷ | د اقلیم په اړه کړني | Climate Action | د اقلیم د تغیر له وجې وچکالي او په ځینو سیمو کي د سیلابونو سبب کیږي. د بندونو جوړول به د سیلابونو مخه ونیسی او د وچکالی په کنترولو کي مهم اثر لري. |

### ۳,۳ :کمال خان بند مثال:

د کمال خان بند سلګونه کلونه په هاخوا موجود وو، چي د هغې سیمي د یو وطندوست او با احساسه افغان چي کمال خان نومیدي د پخوخښتو (Bricks) او آهکو (Lime mortar) څخه جوړ کړی وو[۵]. ددې بند څخه بیا د اوبو کانالونه جلا سوي وه، تر څو د نیمروز (سیستان) وچي دښتي اوبه کړي. خو دامیر تیمور یرغل دا هر څه وران کړه او نیمروز یې په یو ویرانه تبدیل کړی. په ۱۳۵۱ لمریز کال کښې ،کله چي د هلمند د اوبو د تقسیم معاهده د ایران او افغانستان تر منځ امضاء سوله نو د سردار محمد داود خان په واسطه دکمال خان بند د جوړولو چاري په کال ۱۳۵٦ کښـــې عملا شروع ســـوې. خو د ثور کودتا د سردار محمد داود خان دا پلان نیمګړی پاته کړ.وروســـته د کرزي حکومت په راتلو سره ددې بند د لومړی فاز چاري په کال ۱۳۹۰ کي شروع ســـوې. ددې بند د جوړولو چاري د محمد اشرف غني حکومت کي ډیري ګړندی ســـوې او همدارنګه د د اوبود چارو د تنظیم اداري په لومړیتوب کي ځای درلود، چي خوشبختانه اوس یې د جوړولو چاري په تمامیدو دي او افغانان یې د پرانیستلو جشنونه لمانځي.

په دې مقاله کي به د کمال خان بند اقتصادي او ټولنیزې ګټې او اهمیت د افغانستان لپاره د دوامداره پرمختیایي موخو په لاسته راوړلو کي په لاندي شکل ۱ سره وښودل سي.

**شکل ۱: لاندي شکل د کمال خان بند د جوړولو اهمیت دملګرو ملتونو د دوامداره پرمختیایي موخوپه لاسته راوړلوکي**



### ۴. نتیجه:

په دې مقاله کې لومړی د ملګروملتونودوامداره پرمختیایي موخي په لنډ ډول معرفي سوې ،چې وروسته بیا د افغانستان اسلامی دولت پلانونه او کړنې ددې اهدافو په لاسته راوړلو کې بیان سوې.د افغانستان د اوبو د بندونو په اوسني حالت باندي رڼا واچول سوه. دبندونو جوړولواهمیت د ملګرو ملتونو تعین سویو پرمختیایي موخو په لاسته راوړلو کې وڅېړل سو. په پای کې دا جوته سول ،چې د بندونو جوړول د اوولسو (۱۷) پرمختیایي موخو څخه د اتو (۸) موخو په لاسته راوړنه کې د پام وړ اهمیت او اغیز لري. ددې لپاره چې زموږ ګران هېواد د نړۍ د پرمختګ له کاروان څخه شاته پاته نسي– ، نو پکار داده چې ددغو موخو دلاسته راوړلو لپاره ترټولو مناسبې او مؤثرې تګلارې انتخاب او عملي کړل سي. یوه موثره تګلاره ددغو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره لکه څرنګه چې پدې مقاله کې څرګنده سوه هغه د اوبو مدیریت دی . د بندونو ،کانالونو او داوبورسولو شبکو په جوړولو سره به د افغانانو په ژوند کې ډېر لوی تغیر محسوس سي.

### ۵. وړاندېزونه:

۱.نړدې ټول د افغانستان ښارونه د پاکو اوبو رسولو زېربناوې نه لري. د نوي بندونو د دیزاین او پلان په مرحله کې ،که چیری د دبند څخه د ښارونو لپاره د پاکو اوبو برابرولو امکانات په نظر کی ونیول سي، نو دا به تر ډېره حده په ښارونو کې د اوبو د کمښت ستونزه حل کړي .

۲. د ملګروملتونو اوولسم (۱۷) هدف دادی چې د نړۍ په سطحه دې د پرمختیایي اهدافو لپاره همکاري او هماهنګي رامنځته سي.نوڅرنګه چې افغانستان د پولې څخه تیریدونکي رودونه لري او ګاونډې هیوادونه همیشه پر هغو سیندونو دبندونو د جوړولو د مخنیوی هڅه کوي ،کوم چې ددوي هېواد ته بهیږي. افغانستان نوي دولت ته په کار داده چې دا ستونزه د خبرو او نړیوالو تګلارو ته په کتو حل او فصل کړي تر څو وکولای سي د اوبو مهارولو او مدیریت هڅې لا نوري هم چټکې کړي او د بندونو په جوړولو سره خپل دوامداره پرمختیایي موخي تر لاسه کړي.

### 6. ماخذونه:

(۱)Take action for the sustainable development goals – united nations sustainable development. (n.d.). Retrieved March 02, 2021, from https://www.un.org/sustainabledevelopment/sustainabledevelopment goals/#:~:text=The%20Sustainable%20Development%20Goals%20are,Learn%20more%20and%20take%20actio.

(۲) اهداف انکشافی پایدار، وزارت اقتصاد. Retrieved March 02,2021, from https://moec.gov.af/dr/.

(۳)Voluntary National Review at the High Level Political Forum, SDGs' Progress Report Afghanistan (2017).

(۴)Rout, B. (2008). How the water flows: a typology of irrigation systems in Afghanistan. Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit.

(۵) Shroder, J. F., & Ahmadzai, S. J. (2016). Transboundary water resources in Afghanistan: Climate change and land-use implications. Elsevier.

(٦) استراتیژي سکتورآب (۱۳۸٦) ، اداره منابع آب ، استراتیژي انکشاف ملي افغانستان.